information

refugee action
working with refugees to build new lives

# مرسته Section 4 NASS*

## څوک مستحق دی *Section 4 مرستی لپاره

تاسو *Section 4 مرستی لپاره مستحق کیدی شی، که لاندی لیکلی ټول شیان عملی وی:

- تاسو یو پناه غوښتونکی وی او
- ستاسو د پناه غوښتلو ادعا رده شوی وه او
- تاسو مرستی لپاره بل هیڅ لیاره نلری
- که تاسو یو خواست وړاندی کړی وی نو تاسو به د مرستی لپاره مستحق یاست. مهربانی وکړی له مونږ څخه تپوس وکړی.

اؤ که لاندی لیکلی شیانو کښی یو عملی وي:

- تاسو له مخکښی څخه د سفر اسنادو لپاره خواست ورکړی وی (خپل سفارت/امیګریشن خدمت څخه) یا په داؤ طلبانه بیرته تلو لپاره ثبت کړی او د سفر تفصیلونو لپاره انتظار باسی، کوم چی د بیرته تلو څخه د مخه بشپړ شی.
- تاسو د طبی علتونو له مخی له برطاني نه بهر په بدنی ډول د سفر کولو توان نلری
- *Home Office وائی ستاسو هیواد ته بیرته تلو لپاره هیڅ محفوظه لیاره نشته
- تاسو ته اجازه ورکړ شوی وه چی د خپل پناه ادعا په ترڅ کښی یو *Judicial Review واخلی
- د مثال په ډول لدی کبله چی ستاسو مدافع وکیل د ستاسو پناه ادعا په حقله نور غوښتنی وړاندی کړیدی *further representations یا ځکه چی تاسو بندی یاست.

## *Section 4 مرسته څه ده؟

- دائی *NASS لخوا برابر کړی شوی استوګنځي ور سره خواړه او سینګار شیانو لپاره په یوؤنی کښی په عمومی ډول 35 پونډو رسید دي.
- هیڅ زیاتیګړی نقده مرسته نه
- هیله ده چی استوګنه به دستاسود یخوا آخوا ګرځیدو په سیمی کښی وی لیکن تاسو ته به خپل موجوده استوګنی څخه وتل وی.
- *NASS پرله پسی دا لیدو په خاطر څارنه کولی شی که تاسو اوس هم برنی معیار سره برابر یاست اؤ که تاسو پدی معیار برابر به یاست مرسته ترلی شی (دمثال په ډول که تاسو په داؤ طلبانه بیرته تلو لپاره خپل خواست بیرته اخلی، نو ستاسو مرسته رد کیدی شی).

## زه څنګه خواست ور کړم؟

- مهربانی وکړی خپل ترټولو نزدی سلاورکونکی ایجنسی ته لاړ شی. هغوئی *NASS ته خواست ورکولو لپاره د یو فورمه په ډکولو کښی ستاسو مرسته کولی شی.
- *NASS به تاسو ته یوه فورمه لاسلیک کولو لپاره ووائی کوم چی دا وائی چی تاسو د *Section 4 مرستی په شرائیطو پو هیږی. مونږ به تاسو ته ددې وضاحت وکړو.
- یو وار چی تاسو خواست ورکړو دائی دا خبره معلومیدو څخه د مخه څه وخت اخستی شی چی آیا *NASS به تاسو ته د *Section 4 مرسته برابره کړی.
- که *NASS تاسو ته *Section 4 مرسته برابروی، نو دائی نوری یو ونی وخت اخیستی شی لدی څخه دمخه چی تاسو استوګنځی ته د تلو جوګه شی.

* دا توری اؤ نور توری د سازمانونو انګلیسی نو مونه دی د کوم چی ژباړنه نشی کیدلی. مهربانی وکړی یو سلاکار څخه پوښتنه وکړی چی د هغو معنو وضاحت وکړی.

**مهربانی وکړی پوښتنه وکړی که تاسو څنی پوښتنه یا تشویش لری.**